

د وفاق المدارس العربیه په نصاب کښې داخل
او د سوال او ځواب په ښائسته انداز کښې لیکل سوی

پښتو

# خلاصة التجوید

تالیف

الشیخ القاری اظہار احمد تھانوی
استاذ شعبہ تجوید و قراءات دعوہ اکیڈمی اسلام آباد

پښتو ژباړه

قاری فضل الحق حقانی



الناشر
مکتبة القراءة والتجوید
کانسی روڈ شالدرہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

**ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں**

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ و دعوت |
| تمام فنون | | |

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

دعلم تجوید پر اصولو باندی اسانه
اوپر تهولو ضرورياتو باندی مشتمل جامع کتاب

# خلاصة التجويد

تاليف

فضيلة الشيخ المقرى اظهار احمد التهانوى
پروفیسر انٹرنیشنل اسلامک یونیورسٹی
اسلام اباد، پاکستان،

پښتو ترجمه وتشریح

قارى فضل الحق حقانى
خادم التجويد والقراآت جامعه عربیه مرکزیه
تجوید القرآن کوئټه، بلوچستان

مکتبة القرأة والتجويد کوئټه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# اهــدا

د هغو قراوو او حفاظو په نامه چې په جنګ یمامه لونورو غزواتو کې ئې دحق د سرلوړۍ او د قانون الهی د نفاذ په خاطر خپل سرونه د باطل و مختو سپر کړه.

محترمو لوستونکو! لکه څرنګه چې تاسو ته بهتره معلومه ده چې په اکثره پښتنی علاقو کې خصوصًا د افغانستان په اسلامي هیواد کې د علم قرائت د زده کړې د پاره مخصوصي مدرسي یا جامعي نه وې؛ خو د اکیداسې چې په هغه وخت کې د داسې مدرسو جوړولو زمینه نه وه برابره. او یاد با قاعده او مستقلا د داسې جامعا تو جوړولو ضرورت نه وو.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ نن د داسې مدرسو زمینه هم برابره ده ورسره د مسلمانانو رغبت هم د قرآن مجید د قرائت وخواته ډېر سوې (تکړچې لازمه ده) او هم د هیواد په هرهر ګوټ کې قراء موجود دي.

لکن څرنګه چې د قرائت کتابونه یا عربي یا اردو او یا هم په داسې پښتو وه چې زمونږ د هیواد هرخاص وعام لوې او کشني تر او سنې فائده نه سوای ورځخه احستلای. ځکه نوما فضل الحق حقاني حسب توفیق په سلیسه پښتو کې دا خوکتابونه ولیکل تر څود عامو مسلمانانو د پاره د فائدې ذریعه وګرځي.

الله دې دا کتابونه د قرآن مجید د صحیح تلاوت کولو سبب او ما ته دې د اخرت ذخیره وګرځوي امین وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ.

احقر فضل الحق حقانی

مدرس شعبه تجوید و قراءات جامعه عربیه مرکزیه تجوید القرآن سرکی روډ کوئټه بلوچستان و ناظم مکتبة القراءات کوئټه



Maktaba Tul Ishaat.com

# د مکتبۃ القراءت رجسټرډ خبرداری

الحمدلله هر کله چې مکتبۃ القراءت رجسټرډ، په خپلو نشریاتو پیل کړی دی. او د قرآن مجید د علومو د اشاعت او ترویج په باب ګامونه اوچت کړي دي. دا زموږ مرام او هدف دی چې د قرآن کریم خدمت په خپل محنت او کوشش سرته ورسوو. او هرڅه نشریات او تراجم په جدید حواشیو او نوی کتابت او نوی ډیزائن سره سرته ورسوو.

نو لکه څرنګه چې مکتبۃ القراءت (رجسټرډ) پر خپلو کتابتونو حواشیو او تراجمو باندې باور لري. هیله ده چې هر وګړی پر خپلو نشریاتو باندې اعتماد وکړي. تر څو د اسلام، مذهب، قرآن، او هیواد د پاره په ځانګړې ډول خدمتونه وکړل سي.

که بیا هم څوك د مکتبۃ القراءت (رجسټرډ) و کتابتونو، حواشیو، او تراجمو ته په کاره نظر وګوري د عواقبو مسئوله به خپله وي. ځکه چې د نشر ټوله حقوق زموږ سره رسماً محفوظ دي: والسلام

فضل الحق حقانی المقری
ناظم مکتبۃ القراءت کوټه بلوچستان

# د مخرجو او غاښونو نقشه






Maktaba Tul Ishaat.com

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

# اول سبق

## ابتدائي خبرې

**سوال** دعلم تجويد څخه څه مراد دئ!

**جواب** دټولو عربي حروفو د هغو د مخرجو او صفات لازمه او عارضه سره اداکولو ته علم تجويد وائی؛

**سوال** د مخارجو معنیٰ او مطلب څه دئ!

**جواب** مخارج د مخرج جمع ده، يعنی د راوتلو ځای.

**سوال** د مخارجو څو ځايونه دي!

**جواب** پنځه دي. ۱- جوف يعنی د خُولې خالی ځای ۲- حلق ۳- ژبه ۴- شونډان ۵- خيشوم - دې ته د مخارجو اصول هم وائی

**سوال** د صفاتو څخه مطلب څه دئ!

**جواب** په کومو کيفيتونو سره چې حروف اداکيږي هغو کيفيتونو ته صفات وېل کيږي. صفات د صفت جمع ده.

**يادونه:** د صفات لازمه او عارضه تعريفونه مخ ته راځي:

تشريح: د کيفيت څخه مراد حرف ډک ويل باريک ويل دي او نور داسی ۱۲ فضل الحق حقاني غفرله

## دوهم سبق
## عربي حروف

سوال په عربي ژبه کي څو حروف دي!
جواب په عربي ژبه کي ټوله (۲۹) حروفه دي. کوم چي د مخارجو د ترتيب مطابق دا ډول دي.
الف، ء، ه، ع، ح، غ، خ، ق، ك، ج، ی، ش، ض، ل، ن، ر، ط، د، ت، ظ، ذ، ث، ص، ز، س، ف، و، ب، م،

## دريم سبق
## په تجويد سره قرآن شريف ويل ضروري دئ

(د الله تعالیٰ دا خوښه ده چي قرآن څرنګه نازل سوی هغه سي وويل سي) الحديث
سوال قرآن مجيد په تجويد سره ويل ولي ضروري دئ!
جواب وهري ژبي ته هغه وخت صحيح ويل کيږي کله چي هغه دا هل زبان د طريقي سره مطابق وي. څرنګه چي قرآن مجيد



Maktaba Tul Ishaat.com

په عربي ژبه سره دی۔ له هغه سببه د عربو پر طريقه باندې ويل ضروري دي. که چيرې په هغه طريقه سره حروف اداء نه سي نو د قرآن عربيت نه پاته کيږی۔

يا د الله تعالیٰ د مراد او مطلب خلاف معنیٰ څندی پيدا کيږی مثلاً قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ (ته ووايه چې خدای يو دی) او که د د په ځای ووائي کُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ نو معنیٰ داسې کيږی (وخوره هغه خدای يو دی)

همدارنګه قَلْبٌ (زړه) كَلْبٌ (سپی) نَصَرَ (مدد) نَسَرَ د خَلَقَ (د پيدائی کی) حَلَقَ (سرئ وخرايه) يعنې د حروفو غلطيدو سره معنیٰ هم غلط کيږی۔

سوال د تجويد ضرورت په قرآن سره ثابت کړی!

جواب الله تعالیٰ فرمائيلی دي وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ۔ يعنې قرآن مجيد صاف صاف ووايا ست. د صاف ويلو مطلب دا دی چې هر حرف په خپل مخرج او صفت سره اداء سی. او که چيرې نه وی نو هغه کلمه ورته صاف آواز نه ويل کيږی. بلکه غير عربي کيږی۔

سوال د تجويد ضرورت په حديثو سره ثابت کړئ!

جواب په حديث کی راغلی دی، اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ اَنْ يُّقْرَأَ

اَلْقُرْاٰنَ کَمَا اُنْزِلَ : یعنی خدای ته دامحبوبه ده چی قرآن داسی وویل سی لکه څرنګه چی نازل سوی دی :

# څلرم سبق
# دَ غلط ویلو حکم

**سوال** دَ تجوید خلاف قرآن ویل څرنګه دئ !

**جواب** غلطی که ښکاره او غټه وی هغه ته لحن جلی ویل کیږی. او که سپکه غلطی وی هغه ته لحن خفی ویل کیږی.

لحن جلی حرامه او لحن خفی مکروه ده.

**سوال** لحن جلی څه دی !

**جواب** لحن جلی و څلورقسمه غلطیانو ته ویل کیږی.

(۱) یو حرف په بل حرف بدلول مثلاً د اَلْحَمْدُ پرځای اَلْهَمْدُ ویل.

(۲) دیو حرف زیاتول مثلاً بِسْمِ اللّٰهِ. بِیْسْمِ اللّٰهِ ویل.

(۳) یو حرف کمول مثلاً د لَمْ یُوْلَدْ پرځای لَمْ یُلَدْ ویل.

(۴) په حرکاتو او سکناتو کی غلطی کول لکه د اَلْحَمْدُ پرځای اَلْحَمْدَ یا د اِیَّاکَ پرځای اِیَّاکِ ویل.

**سوال** لحن خفی څه ته ویل کیږی !



Maktaba Tul Ishaat.com

**جواب** په صفات عارضه وو کښې غلطۍ ته لحن خفي ویل کیږي مثلاً په رَبَّنَا کې را یا په سَمِعَ اللّٰهُ کې لام باریك وَوائي.

## پنځم سبق
## تلاوت څرنګه شروع کیږي!

**سوال** دابتداء یعنې تلاوت شروع کولو صورتونه بیان کړئ!

**جواب** دابتداء درې صورتونه دي!

(۱) ابتداءِ تلاوت ابتداءِ سُورت یعنې دیوسورت داول څخه شروع کول

(۲) ابتداءِ تلاوت دسورت له منځ څخه یعنې دیوسورت دمابین څخه شروع کول (لکه داو آئتك څخه شروع کول) مترجم

(۳) ابتداءِ سورت درمیان تلاوت یعنې د تلاوت کولو په وخت کې یوسورت ختم او بل سورت شروع سي.

**سوال** ددې دروصورتوحکم بیان کړئ!

**جواب** په اول کې اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ دواړې ویل ضروري دي.

په دوهم صورت کې. اَعُوْذُ بِاللّٰهِ ویل کیږي. په بِسْمِ اللّٰهِ کې اختیار دی که ئې وائې که ئې نه وائې.

او په دریم صورت کې به صرف بِسۡمِ اللّٰه وائې.
یادونه، لکن د سورة بَرَاءَة په شروع کې به بِسۡمِ اللّٰه بالکل نه وائې.

# شپږم سبق

## دَ مخارجو څخه مخکې څه ضروري خبرې

سوال متحرک څه شي ته ویل کیږي!

جواب زور، زیر، پیښ والا حرف ته متحرک ویل کیږي

سوال د ساکن مطلب څه دی!

جواب کوم چې پر یو حرف باندې څه حرکت نه وي هغه ته ساکن ویل کیږي.

سوال جوف دَهن څه ته ویل کیږي!

جواب د غاړې، خولې، او شوندو، وخالي حصو ته جوف دَهن ویل کیږي. مطلب دا چې هر کله په زوره آواز وکښل سي چې آواز د غاړې یا ژبې، یا شوندو، دیو خاص حصه سره نه ولګیږي بلکه د ځیګر څخه شروع سي او د شونډو څخه باندې وځي. د ځیګر څخه تر شونډو پورې دا خلاصې حصې ته (جوف دَهن) وائي (یعنی د خولې خالي حصه.



Maktaba Tul Ishaat.com

**سوال** د غاښونو نومونه راوښیاست!
**جواب** ټول نومونه د غاښونو شپږ دي: ۲ درې د غاښونو نومونه دی. او ۲ درې د زامی نومونه دی د غاښو.
د غاښونو نومونه. ثنایا. رباعی، انیاب.
د زامی د غاښونو نومونه. ضواحك، طواحن. نواجذ،
**سوال** د غاښونو نومونه په تفصیل سره بیان کړئ!
**جواب** غاښونه ټول ۳۲ دوولس دی دکوم چې نومونه دادي بالکل مخامخ څلور غاښونه. ثنایا وائی. لوړ دووته ثنایا علیا. لاندې دووته ثنایا سفلیٰ. بیا د ثنایا وارخ ته راسته او چپه طرفته لاندی او پورته یو یو غاښ دئ هغوته رباعی او رقواطع، ویل کیږی. بیا د رباعی سره متصل هر طرفته یو یو غاښ نوکداره (تیره) د بے هغوته انیاب او کواسر ویل کیږی.
**سوال** د زامې غاښونه بیان کړئ!
**جواب** د زامی غاښونه ټول شل دي. او د هغو نومونه صرف ۲ درې دي. داسې چې د انیابو سره متصل دواړه طرفه ته لاندی او پورته یو یو غاښ دی. هغوته ضواحك ویل کیږی بیا د ضواحکو سره متصل هر طرفته لاندی او پورته ۳ درې درې غاښونه دي هغوی ته طواحن ویل کیږی.....

چې مجموعًا دوولس[۱۲] غاښونه دي. د طواحن سره متصل هر طرفته لاندې او پورته يو يو غاښ دئ هغوته نواجذ وائي او دې شلو[۲۰] دوازو غاښونو ته اضراس ويل کيږي.

اَضْرَاس د ضِرس جمع ده.

يادونه: ضواحِك خندا کونکي يعني[له] د خندا په وخت کې ښکاره کېدونکي. طَوَاحِن ژرونکي. يعني د خوراک شيان په ژرول کيږي.

يادونه: د غاښو او مخرجونو "نقشه" په را تلونکي صفحه [۱۳] کې ملاحظه کړئ.

---

له تشريح: د ثنايا معنى ده دوه. عليا لوړ (پورته) سفلى کښته. رباعى، څلور قواطِع پرې کونکي. انياب جمع د نابٌ ده ناب معنى تېز او تيره. نيښ ته هم ناب وائي ولې چې تېره دي. کَوَاسِر هم د پي انيابو ته وائي ولې چې کَسُر معنى ده ماتولو په دې غاښو سره کلک شيان ماتيږي. د ضواحِك او د طواحِن وجه "مصنف" بيان کړېده. نَوَاجِذ پوره کيدو ته وائي دا غاښونه پراختو سره عقل پوره کيږي. اَضْرَاس، معنى مضبوطه او کلک ولې چې دا غاښونه زيښى لري ۱۲ کتبه وترجمه احقر فضل الحق حقاني خادم التجويد والقراآت جامعه تجويد القرآن کوئټه

# د مخرجو او غاښو نقشه



یادونه: د حروفو ادا کولو په وخت کې صرف لوړ غاښونه په کار راځي. د لاندې غاښونو د حروفو په ادا کولو کې هیڅ تعلق نشته. صرف د مخ دوه غاښونه (ثنایا سفلی) د حروفو په مخرج کې څه په کار راځي. لکه څرنګه چې به معلومه سي.

سوال حافه څه ته وایل کیږي!

جواب د ژبې هغه راسته او چپه د ننه کناره کوم چې په کلغښیلو کې پته وي او د اضراسو غاښو سره لګیږي.

سوال خیشوم څه دی!

جواب دیږې هغه د ننه لوړ طرف.

سوال ادنی حافه څه ته وایل کیږي!

جواب ادنی حافه هغه حصه د حافې ده چې د ضو احکو سره لګیږي.

سوال طرف لسان څه ته وایي.!

جواب (د حافې څخه علاوه) د ژبې د مخ والا ګول کناره کوم چې د دوولس غاښو سره لګیږي:

سوال رأس لسان څه ته وایل کیږي!

جواب د ژبې هغه نوک کوم چې د مخ وخواته د ثنایا سره لګیږي.

سوال لهات څه ته وایل کیږي!

جواب د حلق د تالو و طرفته په آخر کې هغه نرمه حصه.



Maktaba Tul Ishaat.com

سَوال داطباق شفتين مخرج مراد څه دئ!

جَواب دد واړو شونډو انو يو ځاى وَالئ.

سَوال انضمام شفتين څه دئ!

جَواب دَدواړو شونډو ګول کيدل (راټولول).

سَوال اقصى حلق څه دئ!

جَواب دځيګرسره يوځاى دحلق هغه اخِرنۍ حصَه.

سَوال وَسط حلق څه دئ!

جَواب دحلق هغه منځنۍ حصَه.

سَوال ادنى حلق څه دئ!

جَواب دخولې وخواته دحلق هغه پورتنۍ حصَه.

## اووم سبق

# مَخرَجُونه

سَوال مخرج څه دئ ريا څه ته وَيل کيږي!

جَواب حلق، ژبه، شونډان. مطلب دکوم ځايه مخرجي دحرف آواز پيدا کيږي.

سَوال مخرجونه څو دي!

١٧

**جواب** د ۲۹: نه ویشت الف باء او وه لس مخرجه دي۔

**سوال** د اووه لس مخرجونو تفصیل څه دئ!

**جواب** اول مخرج: جوف دهن۔ د دی نه واو مده، یاء مده او الف مده ادا کیږی:

دوم مخرج: اقصیٰ حلق دهغه نه ء، ه، اداکیږی۔

دریم مخرج: وسطِ حلق دهغه نه ع، ح، اداکیږی۔

څلورم مخرج: ادنیٰ حلق دهغه نه غ، خ، اداکیږی۔

پنځم مخرج: دژبې بیخ (ړیۍ) او لهات دهغه نه قاف اداکیږی۔

شپږم مخرج: دقاف دمخرج نه لږ لاندی دخولې وخواته ددی کښتنی کاف اداکیږی۔

اووم مخرج: دژبې منځ او مقابل لوړ تالو ددی نه ج، ش یاءِ متحرکه او یاء لین اداکیږی۔

اتم مخرج: دژبې حافه او پورته پنځه دزامی غاښونه ددے نه ضاد (ض) اداکیږی۔

نهم مخرج: ادنیٰ حافه سره دژبې دکناری او پورته غاښونه سره د ضواحکو ورېو ددی نه لام اداکیږی۔

لسم مخرج: دژبې طرف او دلوړو غاښو ورئی سیله ضواحکو دهغه نه نون (ن) اداکیږی۔



Maktaba Tul Ishaat.com

يوولسم مخرج: د طرف لسان شاه (پشت) او د غاښونو وَره يُو څخه راء (ر) اداكيږي.

دوولسم مخرج: د ژبې نوك او د ثنايا عُليا بېخ د دې څخه ط، د، ت، اداكيږي!

ديارلسم مخرج: دَ ژبې نوك او د ثنايا سُفلیٰ كناره د دې څخه، ظ ذ، ث، اداكيږي.

څوارلسم مخرج، د ژبې نوك د ثنايا سفلیٰ كنارې سره د اِتصاله د ثنايا عُليا د دې څخه، ص، ز، س، اداكيږي.

پنځلسم مخرج: د ثنايا عُليا كناره او د لاندې شونډې د ننه حصه د هغه څخه (ف)، اداكيږي.

شپاړسم مخرج: دواړه شونډان دي. د دې څخه واو متحرك او واو لين، او باء او ميم اداكيږي. باء د شونډې د لاندې ځاېه او ميم د اطباقِ شفتين څخه او واو د انضمام شفتين څخه

اووه لسم مخرج: خيشوم د هغه څخه غنه اداكيږي.

---

تشريح: دا چې مصنف ؒ مخرجونه اووه لس بولي په قول د امام خليل بن احمد فراهيدي. او په نزد د سيبويه ۱۶ شپاړس دي هغه جوف ئې نه دي منلي - او په نزد د فراء ۱۴ څوارلس دي هغه جوف ئې هم نه دي منلي او د لام، نون، راء. يو مخرج بولي ۱۲ احقر فضل الحق حقا نی غفر له الباری.

# اتم سبق

## دواو، الف، یاء، او همزه صورتونه

سوال: د حروف مده وو تشریح وکړئ.!

جواب: حروف مده دري دي. واو، الف، یا. الف همیشه مده وي. واو چې هر کله ساکن او د هغه مخ کې پیښ وي لکه اُعُوذُ.
یاء چې کله ساکنه وي او د هغې مخ کې زیر وي لکه دِیْن.

سوال: واو لین څه ته وائي!

جواب: هر کله چې واو ساکن د هغه څخه مخ کې زور وي لکه یَوْمَ

سوال: واو متحرك څه ته وائي!

جواب: زور، زیر، پیښ والا لکه وَمَا. دا د واوره د شپاړسم مخرج څخه ادا کیږي.

سوال: یاءِ لین څه ته ویل کیږي.

جواب: یاء لین هغه یاءِ ساکنه ده چې ماقبل یې مفتوح وي لکه غَیْرَ

سوال: یاءِ متحرك څه ته وائي!.

جواب: زور، زیر، پیښ، والا یاء لکه مَرْیَمُ، دا د واره یاء دا ووم مخرج څخه ادا کیږي.

سوال: په الف او همزه کې څه فرق دی!



Maktaba Tul Ishaat.com

جواب الف په نرمئ سره او همزه په سختئ سره ویل کیږی لږدی سببه اُ اِ اَ او مَأ کُوْ لِ، کی همزه ده. او په کانَ، کی الف دئ.

یادونه: الف همیشه ساکن اوده مخکی زور وی او په آخر اومنځ کی راځئ په شروع کی کلمی نه راځی.

## نهم سبق

## دمخرجونو مطابق دحروفونو مونه

سوال دحروفونومونه په تفصیل سره بیان کړئ!

جواب په اول مخرج کی دری حرفه واو، الف، یا. حروفه مدهٔ دی.

په مخرج ۲۔۳۔۴۔ کی شپږ حروف ء۔ ه۔ ح۔ ع۔ غ، خ، حروف حلقی

په مخرج ۵۔۶۔ کی دوه حرفه، ق، ك، حروف لهاتیّه.

په مخرج ۷۔ کی دری حروفه ج، ش، ی، ته حروف شجریّه.

مخرج ۸ والا یو حرف (ض) ته حَرف حافیه.

مخرج ۹۔۱۰۔۱۱۔ والا حروفو ته یعنی ل، ن، ر، طرفیه ذلقیه.

مخرج ۱۲۔ والا دری حروفو ته یعنی، ط، د، ت نِطعیّه.

مخرج ۱۳ والا دری حروفو ظ، ذ، ث ته لِثَویّه.

مخرج ۱۴ والا دری حروفو، ص، ز، س، ته صفیریّه

مخرج ۱۵،۱۶ والا څلورو حروفو ته. ف، ب، م، و، شفویّه.

غنه والا دوه حروفو ته۔ ن۔ م ته حرف غنه

# لسم سبق
# صِفتُونه

**سوال** د صفت څخه مراد څه شی دئ!

**جواب** حرف د خپل مخرج څخه دادا کولو په وخت کی چی کوم صفات او کیفیات عارضیږی هغوته صفات ویل کیږی.

د صفت جمع صفات دَه.

**سوال** د صفت څو قِسمونه دی!

**جواب** اول د صفت دوه قِسمُونه دی. صفت لازمه، صفت عارضه

**سوال** صفتِ لازمه څه ته ویل کیږی!

**جواب** صفتِ لازمه هغه کیفیت دی کوم چی په حرف کی همیشه پیدا کیږی. که چیری دا صفت اداء نه سی نو هغه حرف نه پاته کیږی یا ناقص اداکیږی:

**سوال** صفت عارضه څه ته ویل کیږی!

**جواب** صفت عارضه د حرف هغه کیفیت دی کوم چی په ده کی کله پیدا کیږی او کله نه. او که اداء نه سی نو حرف هغه پاته سی. لکن دده ښایست نه سی پاته. لکه راچی دَ ډك والي پر ځای باریکه وویل سی.

یادونه: د صفات عارضه وو بیان د صفاتِ لازمه وروسته راځی.



Maktaba Tul Ishaat.com

# يوولسم سبق
# د صفات لازمه تشريح

سوال: د صفات لازمه وو څو قسمونه دی!

جواب: د صفاتِ لازمه وو اول دوه قسمه دی. صفات لازمه متضاده، او صفاتِ لازمه غیر متضاده.

سوال: د صفات لازمه متضاده څخه مراد او مقصد څه دئ!

جواب: یعنی په حرف کی موجود هغه لازم صفتونه کوم چی بخپل مطلب کی یو د بل مقابل وي.

سوال: د مقابل کیدو څخه مطلب دئ!

د مقابل کیدو مطلب دا دی چی نه هیڅ حرف د دوئ څخه خالی وی او نه دوئ په یوه حرف کی دوه مقابل صفتونه یوځای سی. د دوو مقابل صفتو څخه په یوه حرف کی د یوه پیدا کیدل ضروری دي. او په یوه حرف دا دواړه مقابل صفتونه نه یوځای کیږی مثلاً، سخت ویل (شدت) او نرم ویل (رخوت) دا یو د بل مقابل او ضد دي: په ۲۹ نه ویشت حرفو کی هیڅ حرف د دی صفتو څخه نه سی خالی کیدای. یعنی دا سی نه کیږی چی یو حرف دی نه سخت وی او نه نرم بلکه د دې دوو صفتو څخه به یو ضرور وي.

اود هغہ سره سره یو د بل سره جمع کیږی نه ـ ولی دجمع کیدو مطلب دا کیږی چې دا حرف سخت هم دئ او نرم هم دئ.

دا ښکاره خبره ده چې دا سی نه سی کیدلای۔

سوال دصفات لازمہ غیرمتضاده څهٔ څهٔ مطلب دئ!

جواب دحروفو هغه لازمی او ضروری صفتونه چې په حروفو کی د هغو پیدا کیدل خو ضروری وی۔ لکن په خپل مطلب کی هغہ یو د بل څخه بالکل جلا جلا وی۔ ضدیت، او تقابل په دوی کی نشته۔

## دوولسم سبق

# دصفات لازمه متضاده ساده مفهوم

سوال صفات لازمہ متضاده څو دي!

جواب صفات لازمہ متضاده لس دي۔

سوال ددی صفات لازمہ متضاده وو کوتاه معنیٰ څه ده!

جواب دا پنځه کیفیتونه دی چې په دوئ کی د تقابل له سببه دا لس قسمونه جوړیږی۔

(۱) آواز کښته پورته (۲) په آواز کی سختی نرمی (۳) آواز ډک او باریک (۴) په ډکه خوله سره یا په خلاصه خوله سره۔ (۵) آواز کی چابکی وی یا ځنډ وی۔



Maktaba Tul Ishaat.com

## دیارلسم سبق

# د صفات لازمه متضاده تعریف

**سوال** دلس صفات لازمه متضاده اصطلاحي نومونه او تعریفونه بیان کړی!

**جواب** (۱) همس. چې د حروفو اواز داسې کمزوره سي چې په هغه کښته والی پیدا سي. داسې حروف لس دي کوم چې په دې جمله کې جمع دي فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَكَتَ:

(۲) د دې همس ضد جهر دی یعني د حرف اواز په داسې قوت سره ووځي چې په هغه کې لوړوالی وي. باته ۲۹ حروف مجهوره دي.

(۳)، شدت دی چې د حرف په آواز کې داسې سختي وي چې د سکون په حالت کې آواز بند سي. داسې حروف اته دي کوم چې په دې جمله کې جمع دي. اَجِدُكَ قَطَبْتَ:

(۴)، رخوت (د شدت ضد دی) د حرف په آواز کې داسې نرمي وي چې د سکون په حالت کې آواز جاري وي. د پنځه متوسطه چې مجموعه یې (لِنْ عُمَرَ) ده او د اته شدیده علاوه باته شپاړس حروف رخوه دي.

( ) توسُّط. د شدت او رخوت ترمنځ. چې نه ساه پوره جاري وي او نه پوره بند وي داسې پنځه حروف دي لِنْ عُمَرَ.

(۵) استعلاء د حرف ادا کولو په وخت کې د ژبې بېخ د لوړتالو وطرفته پورته کېږي. حروف مُستعلیه اوه دي، خُصَّ ضَغْطٍ قِظْ

یادونه: د دې صفت په وجه سره د حرف آواز ډک وېل کېږي.

(۶) استِفال د حروفو د ادا کیدو په وخت کې د ژبې پای لوړ تالو ته نه پورته کېږي. د اوو مستعلیه وو علاوه نور ټول حروف مستفله دي:

(۷) اِطبَاق چې د ژبې منځ د تالو سره یو ځای سي تالو پټ کې یعنې آواز په ډکه خوله سره راووځي: د اسې حروف څلور دي. ص، ض، ط، ظ،

(۸) اِنفتاح. چې د ژبې منځ او تالو خلاص وي یعنې آواز په خلاصې سره ووځي:

یادونه: د اطباق په وجه سره حرف ښه ډک اداکېږي. ډک والي ته تفخیم او باریک والي ته ترقیق وېل کېږي.

(۹) اِذلاق. چې حروف د مخرج څخه ژر او اسانه اداء سِي. د اسې حروف شپږ دي. فَرَّ مِنْ لُبٍّ.

(۱۰) اِصمات: چې حروف په ځنډ او سختۍ سره ادا سِي. د شپږ مذلقه علاوه نور ټول مصمته دي.

اللهم اغفر لمؤلفه وللمترجمه ولکاتبه کتبه وترجمه احقر فضل الحق حقانی غفرله

Maktaba Tul Ishaat.com

## څوارلسم سبق

# صفاتِ لازمه غیر متضاده

**سوال** د صفات لازمه غیر متضاده قسمونه بیان کئ!

**جواب** (۱) قلقله چې د حرف ساکن کېدو په وخت کې د آواز
ښوریدل دا سې حروف پنځه دي: قُطْبُ جَدٍّ.

(۲) تفشي په خوله د آواز پاشل دا صفت صرف د شین دئ.

(۳) استطالت ژبه اوږده کول چې د ژبې حافه د لوړو ږو
غاښونو سره ولګيږي. دا صفت صرف په ضاد کې پیدا کیږي.

(۴) صفیر. په ادا کې د حروفو د شپیلکې آواز پیدا کول. داسې
حروف درې دي.

(۵) لین. (واو او یاء ساکن چې ما قبل یې مفتوح وي)، په داسې نرمې
سره ادا کول چې آواز بند سي.

(۶) اِنحراف. دا صفت صرف په لام. او (راء) کې پیدا کیږي.
یعنې د لام او راء. د ادا کیدو په وخت کې هر یو د یو بل و طرفته
مائل کول.

(۷) تکریر. د راء د ادا کیدو په وخت کې د ژبې په کناره کې یو
قسم (رړین دیدل) پیدا کول.

# فَـائِدِې

سَوال د صفاتو څه فائده ده!

جَواب صفات د حروفو آوازو نه صاف او واضح کوی.
د کومو حروفو چې مخرج یو دئ مثلاً حروف شجریَه، نِطعیه، لِثویَه، صفیریَه، او نور۔ د دی حروفو فرق په مخرج کی نه دئ۔ بلکه فرق یې په صفاتوُ سره کیږی. مثلاً د طاء او تاء مخرج یو دی۔ طاء د تاء نه صفات مُمیزه یعنی جَلا کونکی د ته بیا نوم۔ کوم چې په طاء کی سته۔ او په تاء کی نسته.
یعنی، جهر اِستعلاء، اطباق، قلقله، د طاء هغه مخصُوص صفتونه دی کوم چې یواځې په طاء کی دې په تاء کی نسته همدا رنگه د تاء خپل مخصوص صفتونه دي چې طاء کی نسته لکه همس، استفال، انفتاح۔ کوم چې تاء د طاء نه جلا کوی.
ودې صفاتو ته مُمَیّزِه وَیل کیږی۔

سَوال د صفات ممیزه وو تعریف څه دئ !

جَواب هغه صفات لازم کوم چې د یوه مخرج حروف سره جلا کوی.

سَوال په صفاتو کی ضعیف او قوی کوم کوم دې!

جَواب په دې مذکوره صفاتوُ کی۔ همس، رخوت، استفال،

Maktaba Tul Ishaat.com

انفتاح، اذ لاق، او لين، صفات ضعيفه دي، پاته ټول قوي دي.

**سَوال** په حروفو کي کوم ضعيف او کوم قوي دي!

**جَواب** د دي مدار په هغه صفاتو دی کوم چي په دی حرف کي پيدا کيږي. د غور کولو څخه ذهن کي راځي چي حروف پنځه قسمه دي.

(۱) **اقوٰی حُرُوف:** په کوم حرف کي چي ټول صفتونه قوي وي يا اکثره قوي وي مثلاً لکه، ط، ق۔

(۲) **اَضعَف حُرُوف:** په کوم حرف کي چي ټول صفتونه ضعيف وي لکه (فاء) يا يو قوي وي نور ټول ضعيف وي لکه، لا۔

(۳) **قوّی حُرُوف:** په کوم کي چي زيات صفتونه قوي وي کم صفتونه ضعيف وي لکه (جيم)

(۴) **ضعيف حروف:** په کوم حرف کي چي زيات صفتونه ضعيف وي او لږ قوي وي۔ لکه خاء۔

(۵) **متوسّط حُرُوف:** په کوم حرف کي چي دواړه قسمه صفتونه يو برابر وي لکه (ب)۔

---

تشريح: د صفات رعايت کول هم نهايت ضروري دي. ولي چي په علم تجويد کي د صفاتو درجه دوهمه درجه ده۔ او هم د دي صفاتو په وجه مشترک حروف سره جلا کيږي ۱۲ والله اعلم احقر فضل الحق حقاني خادم التجويد والقرآت جامعه تجويد القرآن کوټه

# پنځلسم سبق

# صفات عارضه

**سوال** د صفات عارضه وو تعریف او دهغه پر بحث روښنا واچوئ!

**جواب** صفات د صفت جمع ده په معنیٰ د کیفیت۔ او د عارضه مطلب دا دی چې دا صفت په دې حرف کې د یو سبب له کبله پیدا کیږي۔ او دا سبب عارضي وي۔ کله وي او کله نه وي۔ نو چې هغه سبب عارضي سو نو دا صفت بطریق اولیٰ عارضي دئ۔

د صفاتِ عارضه وو حروف یا مباحث دا دي۔

(۱) لام د اَللّٰهُ یا اَللّٰهُمَّ

(۲) راء

(۳) الف

(۴) نون ساکن او تنوین نون مشدد

(۵) میم ساکن او مشدد

(۶) همزه

(۷) لام دال

(۸) ادغام او اظهار



Maktaba Tul Ishaat.com

۹ — حروف مدو لین

۱۰ — اجتماع ساکنین

۱۱ — هاء ضمیر

## شپاړسم سبق

# دَ الله دَ لفظ لام

**سوال** دَ الله د لفظ دَ لام ویلو څه قاعده ده!

**جواب** د لفظ اَللّٰه یا اَللّٰهُمَّ د لام څخه که چیري مخ ته زور.

یا پیښ وو یا الف وو نو هغه لام به دِک ویل پکار دی لکه

هُوَ اللّٰهُ، رَفَعَهُ اللّٰهُ، سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ، قَالُوا اللّٰهُمَّ، او اَللّٰهُ،

او که دد بے لام مخکی زیر وی بیا د الام

باریك ویل کیږی لکه بِسْمِ اللّٰهِ، او قُلِ اللّٰهُمَّ،

ددی دوو لامونو علاوه هر ځای او په هر

حالت لام باریك ویل کیږی لکه مَا لَهُمْ، اَنْ لَّا اِلٰهَ.

---

تشریح: ودی دِک ویلو ته تفخیم، تجسیم، او تسمین هم ویل کیږی او باریک ویلو ته ترقیق، یو وجه یه دا ده چی ځکه د الله لفظ د پلیښ او زور په حالت کی دِک ویل کیږی چی د اتعظیم لفظی دلالت په تعظیم معنوی باندی وکړی. او د زیر ذات باریک دی ۱۲ احقر فضل الحق غفرلنا تا خرو ما سبق

## اووه لسم سبق

# د راء د ډک ويلو قاعدې

**سوال** د راء د ډک والي او باريك والي صورتونه سره د مثالو بيان کړئ!

**جواب** راء په دولس حالتو کې ډکه وئيل کيږي تفصيل دا دی!

(۱) راء چې مفتوحه غير مشدده وي لکه: رَحِيْمٌ

(۲) راء چې مضمومه غير مشدده وي لکه: رُبَمَا

(۳) راء چې مفتوحه مشدده وي لکه اَلرَّحْمٰنُ

(۴) راء چې مضمومه مشدده وي لکه مَرُّوْا

(۵) راء چې ساکنه ما قبل يې مفتوح وي لکه اَرْسَلَ

(۶) راء چې ساکنه او ما قبل يې مضموم وي لکه يُرْزَقُوْنَ

(۷) راء چې ساکنه وي او ما قبل کسره يې بله کلمه کې وي لکه رَبِّ ارْجِعُوْنَ

(۸) راء چې ساکنه او ما قبل کسره عارضي وي لکه اِرْجِعْ.

(۹) راء چې ساکنه ما قبل کسره او ما بعد حرف مستعليه وي لکه قِرْطَاسٍ، فِرْقَةٍ، مِرْصَادٍ، اِرْصَادًا،

(۱۰) راء چې کله ساکنه ما قبل هم ساکن ما قبل يې مفتوح وي لکه قَدْرٌ ه په وقف کې.

(۱۱) راء چې کله ساکنه ما قبل هم ساکن ما قبل مضموم لکه اَلْعُسْر، په وقف کې.

(۱۲) راء چې کله مضمومه وي وقف بالروم باندې وسی لکه مُنْتَصِرٌ.

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده: په سورة شعراء کی لفظ "فِرْقٍ" کی دواړه وجهی جائز دی یعنی ډک ویل او باریک ویل.
یادونه: دوقف بالروم بیان مخته دوقف په بیان کی راځی، ان شاء الله

## اتلسم سبق

# درا، باریك ویلو صورتونه

سوال: راء په څو حالتو کی باریکه ویل کیږی!
جواب: په اووه حالتو کی را باریکه ویل کیږی تفصیل یې دادی!
(۱) راء چی مکسوره غیر مشدده وی لکه رِجَالٌ
(۲) راء چی مکسوره مشدده وی لکه اَلرِّجَالُ
(۳) راء چی ساکنه او ما قبل یې مکسور وی لکه شِرْعَةً
(۴) راء چی ساکنه ما قبل هم ساکن ما قبل مکسور وی لکه حِجْرٌ (په وقف کی)
(۵) راء چی ساکنه او ما قبل یې یاء ساکنه وی لکه خَيْرٌ، قَدِيْرٌ (په وقف کی)
(۶) راء د اماله په وخت کی لکه مَجْرٖيهَا۔
(۷) راء چی مکسوره وی او وقف بالروم وربانَدی وشی لکه وَالْفَجْرِ
سوال: د ډك او باریك ویلو څه نوم دی!
جواب: ډک ویلو ته تفخیم او باریک ویلو ته ترقیق ویل کیږی.

همدارنګه دلک حرف ته مُفَخّم او باریک حرف ته مُرَقّق ویل کیږي.

سوال دامالې څخه مراد څه دی او په قرآن مجید کې څو ځایه ده!

جواب داماله معنیٰ ده کږېدل یعنی الف وطرفته دیاء کږېدل او زور وطرفته دزیر داسې اماله په (روایت حفصؒ کې امترجم) صرف یوځای په سورت هود کې ده لکه مَجْرٖ یهَا۔

## نولسم سبق

# دالف دک او باریک ویلو قاعده

سوال دالف د دک ویلو او باریک ویلو څه قاعده ده!

جواب الف همیشه ساکن او ماقبل دده مفتوح وي۔ او همیشه دکلمې په اخیر یا منځ کې واقع کیږي۔

ددې الف څخه مخکې که چیرې زور والا حرف دک وو دا الف هم دک ویل کیږي او دهغه مثالونه دادي قَالَ، رَانَ، اَللّٰهُ، شَطَطًا۔

او که دالف څخه مخکې حرف مفتوح باریک وو نو الف هم باریک ویل کیږي لکه کَانَ، کِتَابُ۔

سوال دالف څخه مخکې راتلونکي دک حروف څو دي!

جواب اووه حروف مستعلیه دي چې دهغو مجموعه داده ..


Maktaba Tul Ishaat.com

خُصَّ، ضَغطٍ، قِظْ،

اوداحروف همیشه په هرحال کې ډک ویل کیږي - او دوه حرفه (لام راء) په کوموکې چې ډک والی عارضي پیداکیږي (ددې دواړو د تفخیم قواعدې مخته تیرې سوې)

خلاصه داده چې لس حروف د تفخیم دي. اوه حروف مستعلیه چې د هغوا ستعلاء لازمي ده - او درې حرف (لار) یعني لام، الف راء- چې ددوی تفخیم عارضي دئ. اوالف څخه مخکې الف نه سئ راتلای ځکه نو د الف څخه مخکې دا نه حروف راتلای سي.

## شلم سبق

# د نون ساکن او تنوین په منځ کې فرق

**سوال** د نون ساکن او تنوین په منځ کې څه فرق دئ!

**جواب** د نون ساکن او تنوین درې رنګه فرق کیدای سي...

(۱) نون ساکن لیکل کیږي لکه اَفَمَنْ. او نون تنوین نه لیکل کیږي بلکه د علامت د پاره د تنوین پرځای دوه زورَہ، دوه پېښه، یادوه زیره

---

تشریح ولې که چیرې د الف څخه مخکې الف راسي بیا التقاء ساکنین رائي علی غیر حده.
اودا په کلام عرب کې جائز نه ده ۱۲ احقر فضل الحق حقاني عفرله الباری.

لبکل کیږی لکه اَحَدٌ ، جُزْءًا ، قُرَیْشٍ ،

(۲) نون ساکن وصل او په وقف په دواړو حالتو کی ویل کیږی مثلاً کُنْ ۔ او نون تنوین صرف په وصل کی ویل کیږی لکن په وقف کی نه ویل کیږی لکه اَحَدٌ په وقف کی اَحَدْ ویل کیږی.

(۳) نون ساکن د لفظ په منځ او اخِر هرځای راتلای سی لکه اَنْعَمْتَ او کُنْ ۔ مگر تنوین همیشه په آخِر کی دکلمی وی لکه کُفُوًا ،

## یوولیشتم سبق

# دنون ساکن او تنوین حالتونه

**سوال** دنون ساکن او تنوین څو حالتونه دی !

**جواب** څلوردي اظهار،(۱) ادغام،(۲) قلب،(۳) اِخفاء،(۴)

**سوال** ددی څلورو حالتو تفصیل څرنگه دئ !

**جواب** (۱) دنون ساکن او یا تنوین وروسته کهچیری حرف حلقی راغی نو هلته نون ساکن او تنوین په اظهار سره بیله غنّی ویل کیږی. که داسی صورت په یوه کلمه کی وی که په دوو کلمو کی وی لکه اَنْعَمْتَ، مَنْ اٰمَنَ ۔ شَیْئٌ عَلِیْمٌ ۔ دي اظهار ته اظهار حلقی ویل کیږی۔

(۲) ادغام ـ کهچیری دنون ساکنه او تنوین وروسته حروف دَ


Maktaba Tul Ishaat.com

يَرْمَلُوْنَ شپږو (تخ) راسي يو نوهلته ادغام کيږي. يعني نون په دغوحرفوکي داسي ګډيږي چې يوحَرف مشدد جوړسي. لکه مِنْ وَّالٍ، بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ، هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ.

دادغام دوه قسمه دي. ادغام مَع الغنه داسي حروف څلور دي چي مجموعه يې ده يَنْمُوْ. اودوهم ادغام بلاغنه داسي حروف دوه دي، لام، راء،

**يادونه:** اوس دَايه داقاعدهٔ[له] نه جَاري کيږي. صِنْوَانٌ قِنْوَانٌ، بُنْيَانٌ، دُنْيَا، يٰسٓ وَالْقُرْاٰنِ، نٓ وَالْقَلَمِ، مَنْ رَاقٍ.

(۲) قلب يااقلاب، يعنی نون ساکن اوتنوين په ميم سره بَدلول په غنه اواخفاءسره ويل. داقلاب هغه وخت کيږي کله چي دنون ساکن اوتنوين وروسته باء راسي. خواه په يوه کلمه کي وي که په دووکلموکې وي لکه سُنْۢبُلَةٍ، مِنْۢ بَيْنِ، عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ

---

له تشريح. په څلوروواړو کلماتو کې ځکه ادغام نه کيږي ولې که ادغام وسي بيا به التباس دمضاعف سره راځي يعني وروسته تر ادغامه بيا نه معلوميږي چي دا دوي ياء - يا دوه واوه داصل کلمې څخه دي اوکه په قاعده د يَرْمَلُوْنَ ادغام سوئی دی - او په دا نورو دروکې ځکه ادغام ونه سو چي دا حروف مقطعات دي په قطعه سره ويل کيږي وروسته ترقطعي څخه اتصال چي قاعده د يَرْمَلُوْنَ ئې غواړي نه سو باته - اوهم په دا اخيرنۍ کلمه کې سکته ده دسکتي له سببه اتصال نه سو باته ۱۲ والله اعلم احقر فضل الحق حقاني غفرله الباري

(۴) اخفاء: يعنى نون بيله شده د غُنّې سره د اداء ول وويل سی
چې د هغه آواز اظهار په ډول صاف نه واو، بدل سي.
د اخفاء هغه وخت کيږى کله چې د نون ساکن او تنوين وروسته
د حروف حلقى، حروف يَرمَلُونَ، او باء څخه علاوه په پاته
حرفو کې چې هر حرف راسى که په يوه کلمه کى وى که په دوو کلمو
کى وى. او دى اخفاء ته اخفاء حقيقى وائى. لکه مِنْ قَبْلِكَ،
كُنْتُمْ، شَيْءٍ قَدِيْرٌ.

## دوه ويشتم سبق

# د ميم ساكن حالات

**سوال** د ميم ساکن څو حالات دي!

**جواب** د ميم ساکن درى حالتونه دي. ادغام، اخفاء، اظهار،

(۱) ادغام يعنى د ميم ساکن وروسته چې بل ميم راسى د واړو
په غنه سره مشدد وويل کيږى لکه وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ.

(۲) اخفاء يعنى د ميم ساکن وروسته چې باء راسى نو په ميم
ساکن کى د غنه کولو سره د شونډو د نرمى څخه اداکيږى لکه
وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ.

(۳) اظهار يعنى بيله غُنّې د اطباق شفتين څخه ميم په اظهار،

Maktaba Tul Ishaat.com

سره ويل کيږي۔
د ميم او باء علاوه چې د ميم ساکن وروسته هر حرف راشي نو هلته به ميم په اظهار سره وايو. لکه اَنْعَمْتَ، دې ته اظهار شفوي ويل کيږي۔
**فائده**: د ميم ساکن او نون ساکن يو حالات دي لبس فرق دومره دی چې په نون ساکنه کې قلب هم سته. ليکن په ميم کې نسته يا ته دري حالې يعني، اظهار، ادغام، اخفاء، په دواړو کې سته۔

## درويشتم سبق
# دَ غُنّی حُرُوف - اِخفاء

**سَوال** د اخفاء تشريح او وضاحت وکړئ!
**جَواب** د اخفاء حقيقت دا دی چې نون او ميم آواز و نه بيله تشديده د غنی سره دا رنګه آواز راووځي چې د خپل مخرج څخه صاف نه ووځي بلکه يو څه نيم ډوله ښکاره سي. د اخفاء په حالت کې نون او ميم ته حروف مخفاة ويل کيږي۔
**سَوال** حروف غُنّه څو دي!
**جَواب** حروف غنه خاص نون او ميم کيدلای سي. په بل

هېڅ حرف کې غنه نشته ذاتاً. نون په درو حالتو کې او میم په دوو حالتو کې حرف غنه کیږي.

## د نون غنه تفصیل:

(۱) نون مشدد لکه إِنَّ، (۲) نون مخفاة یعنی هغه نون چې په ده کې اخفاء کیږي لکه کُنْتُمْ (۳) د یَنْمُوْ په څلورو حروفو کې دغنې سره ادغام، لکه مَنْ یَّشَآءُ، مِنْ مَّآءٍ، مِنْ نَّارٍ

## د میم غنه تفصیل:

(۱) میم مشدد لکه ثُمَّ، اَمْ مَّنْ، (۲) میم مخفاة لکه وَمَاهُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ

خلاصه دا ده چې حروف دغنې پنځه دي.

## څلېرویشتم سبق

# د همزه بیان

سوال: د همزه څو قسمونه دي!

جواب: د همزه دوه قسمه دي. قِطعیه، وَصلیَه.

قِطعیَه: هغه همزه چې په هرحال کې ویل کیږي او هېڅ کله نه حذف کیږي. لکه اُطْغَیْتُهٗ، اُلْقِیَا، اَخْرِجْ، اَنْذِرْ، اُدْعُوْا

وَصلیَه: هغه همزه ده چې په شروع کې د کلمې ویل کیږي لکن



Maktaba Tul Ishaat.com

د عبارت په منځ کې چې راسي حذف کیږي لکه فانفجرت چې
په اصل کې فَانْفَجَرَتْ وو، اَمِ ارْتَابُوْا، چې په اصل کې اَمِ ارْتَابُوْا
وو، لَا انْفِصَامَ، چې په اصل کې لَا اِنْفِصَامَ وو،،

سَوال د همزه وصلي او قطعي علامه څه ده!

جَواب (۱) د اسماوو په شروع کې چې کوم الف ولام (ال) دی
د هغه همزه وصلي ده لکه اَلْکَوْثَرَ، اَلْحَمْدُ، اَلَّذِیْ. د اهمزه
همیشه مفتوحه وي:

(۲) د فعل دریم حرف که مضموم وو نو دا همزهٔ وصلي هم مضمومه
وي لکه اُقْتُلُوْا: او که دریم حرف یعنی عین کلمه مفتوحه یا
مکسوره وي نو همزهٔ وصلي هم په دواړو صورتو کې مکسوره کیږي.
لکه اِنْفَجَرَتْ، اِنْتَهُوْا، اِنْتِقَامَ، اِنْفِصَامَ،

(۳) او اسمونه دي چې د هغو په شروع همزهٔ وصلي مکسوره وي.
لکه اِسْمٌ، اِبْنٌ، اِبْنَتٌ، اِمْرَأٌ، اِمْرَاَةٌ، اِثْنَا، اِثْنَا.
د دې ذکر سوو همزو ماسوا ټولې همزې قطعي دي.

(۱) د فعل په شروع کې چې کومه همزه مفتوحه وي هغه قطعي وي لکه اَذْهَبْتُمْ
(۲) د واحد متکلم همزه همیشه قطعي وي لکه وَاَعْتَزِلُکُمْ، سَاُنْزِلُ،

یادونه: خلور فعلونه دي چې په هغو کې دریم حرف یعنی عین
کلمه باندې پیښ دی لیکن همزه ئې د مضمومو پرځای مکسوره ده

(۱) اِمْشُوْا[له] (۲) اِیْتُوْا (۳) اِقْضُوْا (۴) اِبْنُوْا

## پنځه ویشتم سبق

# د لام «اَلْ» بیان

**سوال** د اَلْ لام په راتلونکي حرف کې ادغام کولو او اظهار کولو ته څه وایي!

**جواب** د اسم په شروع کې د اَلْ لام په راتلونکي حرف کې پټولو ته ادغام او ښکاره کولو ته اظهار ویل کیږي۔

**سوال** د اَلْ د لام اظهار په څو حروفو کې کیږي!

**جواب** په څوارلس (۱۴) حروفو کې اظهار کیږي چې د هغو مجموعه ده اِبْغِ حَجَّكَ وَخَفْ عَقِيْمَهُ۔

لکه اَلْاٰنَ، اَلْبُخْلُ، وَالْغَارِمِيْنَ، اَلْحَجُّ، وَالْجَارِ، وَالْكَافِرُوْنَ، وَالْوَالِدَاتُ، او نور، دې حروفو ته قمریه ویل کیږي۔

**سوال** ادغام په څو حروفو کې کیږي!

**جواب** په څوارلس حروفو کې کوم چې د قمریه علاوه دي لکه اَلشَّمْسُ، اَلزَّيْتُوْنِ، اَلثَّوَابِ او نور، دې ته حروف شمسیه ویل کیږي۔

---

[له] تشریح۔ د همزه په دې مکسوره ده چې اعتبارًا للاصل ولې چې په اصل کې عین کلمه مکسوره ده اصل یې اِمْشِيُوْا، اِیْتِيُوْا، اِقْضِيُوْا، اِبْنِيُوْا۔ وو بیا ضمه په یا ثقیله وه ماقبل ته نقل شوه بیا د التقاء ساکنین د اغله یاء حذف شوه ۱۲ حقر نقل الحق حقا فی غفرله الباری۔

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده: د فعل په اول یا منځ کی چی کوم لام ساکن راسی هغه همیشه په اظهار سره ویل کیږی لکه فَالْتَقَمَهُ، فَالْتَقَطَهُ، جَعَلْنَا، قُلْنَا،

## شپږم لیشتم سبق

# د ادغام او اظهار بیان

**سوال** د ادغام تعریف څه دئ!

**جواب** حرف ساکن په حرف متحرک کی داسی یو ځای کول چی دواړه یو حرف مشدد جوړ سی۔ اول حرف ته مدغم، دوهم ته مدغم فیه ویل کیږی۔

**سوال** د اظهار تعریف وکړئ!

**جواب** حرف د خپل مخرج او صفا تو سره واضح او صاف ویل۔

**سوال** د ادغام قسمونه بیان کړئ!

**جواب** د ادغام ټول پنځه قسمونه دي. تفصیل دا دی۔

(۱) ادغام مثلین تام، یعنی مدغم او مدغم فیه دواړه یو حرف سی۔ او دا ادغام همیشه تام وی مثلاً اِذْ ذَّهَبَ، اَنْ نَّعْبُدَ،

---

تشریح: حروف شمسیه او حروف قمریه ته شمسیه او قمریه وئیل د تشبیه له کبله دي یعني لکه د لمر په راختو سره ستوري ورک سي او د سپوږمۍ په راختو سره ستوري نه ورکیږي همدا رنګه الف لام ۱۲ اختر فضل الحق حقاني

(۲) اِدغام متجانسین تام چې مدغم او مدغم فیه دیوه مخرج دوه حرفه وي او دواړه حرف هېڅ یو آواز (صفت) پاته نه سي لکه قَدْ تَّبَيَّنَ، اِذْ ظَّلَمُوْا۔

(۳) ادغام متجانسین ناقص۔ هغه دئ چې مدغم او مدغم فیه دیوه مخرج دوه حرفه وي لکن دادغام وروسته هم د اول حرف آواز باقي پاته سي لکه بَسَطْتَّ، اَحَطْتُّ چې د اول حرف طاء صفت د استعلاء پاته دئ۔

**یادونه:** د طاء ادغام په تاء کې په قرآن مجید کې څلور ځایه سوئ دئ، بَسَطْتَّ، اَحَطْتُّ، مَا فَرَّطْتُّمْ، مَا فَرَّطْتَّ۔

او د ادغام ناقص دا څلور مثالونه دي[1]۔

(۴) ادغام متقاربین تام۔ هغه دوه حرفه چې مخرجونه یې جلا وي د قرب مخرج یا صفت له سببه دا دوه ادغام کول چې د اول حرف هېڅ آواز نه سي پاته لکه قُلْ رَّبِّ، اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ۔

(۵) ادغام متقاربین ناقص، هغه دوه حرفه چې مخرج ئې سره جلا وي د نزدې والي د مخرج له سببه د اسې ادغام کول چې د اول حرف هېڅ آواز یا صفت پاته نه سي مثلاً مَنْ يَّشَاءُ، مِنْ وَّالٍ، همدا رنګه په

[1] تشریح: د مصنف دا خبره چې د ادغام ناقص دا څلور مثالونه دي دا حصر نسبتاً و طاء صحیح دی ولکن ادغام ناقص مطلقاً نور صورتونه هم لري لکه مَنْ يَّقُوْلُ ادغام ناقص دی په نزد د ټولو قراوو سوا د خلف څخه ۱۲ احقر فضل الحق حقانی عفی عنه۔



Maktaba Tul Ishaat.com

اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ کی ادغام ناقِص هم جائز دی یعنی چی د قاف استعلاء باقی پاته سی۔

فائِده نمبر ۱ د مثلینو کرچیری اول حرف مده وی[1] بیا ادغام نه کیږی فِیْ یَوْمٍ، قَالُوْا وَهُمْ۔

فائده نمبر ۲ په حروف حلقی کی د مثلین ادغام کیږی لکه یُوَجِّهْهُّ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَلَيْهِ ۔ لکن د متجانسین[2] یا متقاربین ادغام نه کیږی لکه فَاصْفَحْ عَنْهُمْ، سَبِّحْهُ، لَاتُزِغْ قُلُوْبَنَا۔

فائده نمبر ۳ اکثره ځایونو کی ادغام تام کیږی صرف په څلورو صورتو کی ادغام ناقِص کیږی ۔

(۱) د طاء ادغام په تاء کی لکه بَسَطْتَّ۔

(۲) د نون ادغام په واو کی لکه مِنْ وَّالٍ۔

(۳) د نون ادغام په یاء کی لکه اَنْ يَّأْخُذَ۔

(۴) د قاف ادغام په کاف کی یو ځای اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ جوازًا۔

---

[1] تشریح د حروف مده ادغام په خپل مماثل کی ځکه نه کیږی چی که چیری ادغام وسی بیا هغه مدیت د حرف مده نه پاتیږی حالانکه مدیت بالاتفاق ثمولہ قائل دی ۱۲ حقانی

[2] د حروف حلقی په خپل مماثل کی چاره بی له ادغامه نسته ولی چی قاعده ورته متوجه ده او په غیر کی د حروف حلقی ځکه ادغام نه کیږی چی ادغام د باره د تخفیف کیږی او دلته د ادغام کولو ثمحه ثقل راځی ۱۲ حضر فضل الحق حقانی خادم التجوید والقرآت جامع تجوید القرآن کوټه

## اووه ولیشتم سبق

# د مدفرعی "متصل و منفصل" بیان

**سوال** د مد اصلی او مد فرعی مطلب څه دئ!

**جواب** حروف مده د خپل اصلی او فطری مقدار موافق کشولو او ښ د ولوته مد اصلی ویل کیږی لکه په قَالُوْا کی الف او واو۔ دَاعِیْ، کی یاء۔

او دیو سبب له کبله دا حروف مده تر خپل اصلی مقدار زیات کشولوته مد فرعی ویل کیږی۔ لکه جَآءَ۔

**سوال** د مد فرعی څو سببونه دي!

**جواب** د مد فرعی دوه سببه دی همزه، سکون اصلی یا عارضی،

**سوال** په سکون اصلی او عارضی کی څه فرق دئ!

**جواب** سکون اصلی هغه سکون دی کوم چی همیشه ویل کیږی سکون عارضی هغه دی چی صرف په وقف کی ویل کیږی.

**سوال** د کوم مد فرعی چی سبب همزه وی د هغه څو قسمونه دی!

**جواب** صرف دوه قسمونه دی۔ کرچیری د حروف مده وروسته همزه په دا غه کلمه کی وی لکه جَآءَ، سُوْءٌ، سِیْٓئَتْ، دی ته متصل وائی.

او کچیری تر حرف مده وروسته همزه په بله کلمه کی وی لکه

اِنَّآ اَعۡطَيۡنٰكَ الۡكَوۡثَرَ. قَالُوۡآ اٰمَنَّا. فِيۡٓ اَنۡفُسِهِمۡ، دی ته مدمنفصل وائی.

## اته ويشتم سبق

# د مدفرعي «لازم او عارض» بيان

**سوال** دسکون په اعتبار سره د مد څو قسمونه دی!

**جواب** دسکون په اعتبار سره د مد دوه قسمه دی

(۱) مدلازم ، (۲) مد جائز.

د مدلازم پنځه قسمونه دی.

(۱) مدلازم کلمي مثقل، هغه دی چې حرف مده په کلمه کی وی او وروسته تر حرف مد چې کوم حرف وی پر هغه باندی شد وی لکه حَآجَّ، دَآبَّة،

(۲) مدلازم کلمي مخفف. چې وروسته تر حرف مد صرف سکون وی لکه آلۡـٰٔنَ.

(۳) مدلازم حرفي مثقل: هر کله چې حروف مده په حروف مقطعات کی وی او تر حرف مد وروسته حرف مشدد وی لکه په الٓمٓ کی لام،

(۴) مدلازم حرفي مخفف، هر کله چې حروف مده په حروف مقطعات کی وی وروسته تر حرف مد ساکن حرف وی لکه په

الٓمٓ کی د میم سکون.
(۵) مدلازم لین: هر کله چې د حروف لین وروسته سکون اصلی راسی. او دا صرف په حروف مقطعاتو کی په (عین) کی دوه ځایه دي. کٓهٰیٰعٓصٓ په سورۃ مریم کی. اوبل حٰمٓ عٓسٓقٓ ه په سورۃ شوری کی.
سوال دمد جائز قسمونه بیان کړئ!
جواب دمد جائز دوه قسمونه دي.
(۱) چې د حرف مد وروسته سکون عارضي وي لکه اَلْعٰلَمِیْنَ ه په وقف کی. دي ته مد عارض وقفي ویل کیږي.
(۲) چې د حرف لین وروسته سکون عارض سی لکه مِنْ خَوْفٍ وَالصَّیْفِ ه په وقف کی دي ته مد عارض لین وائي.
یادونه: دمد لازم کلمي مخفف په قرآن کی صرف یو مثال دئ آلْـٰٔنَ کوم چې په سورۃ یونس کی دوه ځایه ده.
فائده: حروف مقطعات د بعض سورتو په شروع کی هغه پرې پرې حروف ته ویل کیږي.
او دا سي حروف مقطعات چې مد باندي کیږي. څوارلس حرف دي چې مجموعه یې دا ده. نَقَصَ عَسَلُکُمْ حَیٌّ طَاهِرٌ.
دا حروف پر دري قسمه دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) هغه حروف چې په هغو کې مد فرعي دی اته دي نَقَصَ عَسَلُکُمْ.
(۲) هغه حروف چې مد اصلي په کښې دی پنځه دي، حَیٌّ، طَهَرَ.
(۳) په کومو کې چې هیڅ مَد نشته دا صرف یو حَرف الف دی.

## نه ولیشتم سَبق

# دَمَدُونومقدَارُونَه

**سَوال** دمدونومقدارونه بیان کړئ!
**جَواب** دمدونومقدارونه درې دي
(۱) قصر۔ یعنی هغه اصلي مقدار په اندازه ددوو حرکتو.
(۲) توسط ۔ یعني درمیانه مقدار په اندازه دڅلورو حرکتو۔
(۳) طُول، سه اوږد وَل یعنی شپږ حرکته مَد کول.
**سَوال** دمدونو په قسمُو کې مقدارونه دمد بیان کړئ!
**جَواب** (۱) په مَد اصلي کې صرف قصر دی.
(۲) په مَد متصل او منفصل کې صرف توسط دی.
(۳) دمد لازم په څلور سره قسمونو کې طُول دی.
(۴) په مَد لازم لین طول وتوسط بهتر دی. قصر جائز نه دی.
(۵) په مَد عارض وقفي کې طول بهتر دی، بیا توسط دی، بیا قصر، په مد لین عارض کې قصر بهتر دی. بیا توسط، بیا طول۔

## دیرشم سبق

# دهاءِ ضمیر بیان

**سوال** هاءِ ضمیر څه ته ویل کیږی!

**جواب** دعربی ژبې په اعتبار سره دا د واحد مذکر غائب ضمیر دی، "ه" په معنیٰ د (هغه) مثلاً کِتَابُهٗ. دهغه کتاب.

**سوال** ددی هاءِ ضمیر څو قاعدی دي!

**جواب** ددی هاءِ ضمیر دوې قاعدی دي. یوه قاعده ددی هاءِ ضمیر د حرکت (زیر، پیښ) دوهم د کشولو او نه کشولو.

**سوال** د حرکت قاعده یی څنګه ده!

**جواب** که چیری ددې هاءِ ضمیر مخکی زیر یا یاءِ ساکنه وه نو هلته هاءِ ضمیر مکسوره کیږی لکه بِهٖ، فِیْهِ، او که چیری مخکی تر هاءِ ضمیر زبر، پیش یا یاءِ ساکنه نه وه هلته مضمومه ده لکه لَهٗ وَامْرَأَتُهٗ، اَخَاهُ، رَأَيْتُمُوْهُ، اَنْزَلْنٰهُ.

**فائده:** په قرآن مجید کی پنځه هاءِ ضمیر دي کوم چې ددې قاعدی څخه خلاف دي. اَرْجِهْ، اَلْقِهْ، چې پر ځای د مکسورې کیدو ساکنی دي. عَلَيْهُ اللّٰهَ، وَمَآ اَنْسٰنِيْهُ، چې پر ځای د مکسوره کیدو مضمومه دي. وَيَتَّقْهِ، چې

Maktaba Tul Ishaat.com

پرځای د مضمومه کیدو مکسوره دی [۱]۔

**سوال** د هاءِ ضمیر د کشولو څه قاعده ده؟

**جواب** د هاءِ ضمیر مخکی او وروسته که چیری متحرک حروف وه نو هغه هاءِ ضمیر په صِله سره یعنی اشباع سره د حرکت ویل کیږی لکه اِنَّهٗ فِی، بِعِبَادِهٖ بَصِیْرًا۔ او که چیری ساکن وو بیا هاءِ ضمیر نه کشیږی۔ لکه مِنْهُ الْاَنْهٰرُ۔ لَهُ الْحَقُّ۔

**فائده:** په قرآن مجید کی دوه ضمیره د دی قاعدې خلاف راغلی دي۔ یَرْضَهُ لَکُمْ [۲] چی داهاءِ ضمیر نه کشیږی۔ او بل فِیْهٖ مُهَانًا، چی دا بیا بیله کشیدلو صحیح نه دی۔

**فائده:** حرکت کشولو ته صِله او اشباع وائی۔ نه کشولو ته قصر او عدم اشباع وائی۔

---

[۲] تشریح: په لفظ د یَرْضَهُ کی ځکه هاءِ ضمیر نه کشیږی که څه هم ظاهرًا ما قبل او ما بعد متحرک دی ولی چی اصل د یَرْضَهُ یَرْضَاهُ وو یعنی په اصل کی مخکی تر هاءِ ضمیر الف ساکنه منقلبه د یاء څخه موجود دی نو ما قبل یې ساکن سو۔ او فِیْهٖ مُهَانًا کی ځکه کشیږی که څه هم ما قبل یې یاء ساکنه ده دا جمعًا بین اللغتین ځکه ابن کثیر مکیؒ مطلقًا هاءِ ضمیر کشوی ۱۲ احقر فضل الحق حقانی غفرله الباری

---

[۱] تشریح۔ په دغو اولو کلماتو کی ځکه ساکنه ده چی دلته په حالت وقفی ذناقصاتو یاء حذف شویده هر کله چی هاءِ ضمیر د هغه یاء قائم مقامه سوه نو څرنګه حرف صحیح دی ځکه نو په جزم سره ساکنه سوه۔ او په دا د دوو نورو کی په ځای د مکسوره کیدو مضمومه ده اتباعًا للاصل۔ او په یَتَّقْهِ ځکه مکسوره ده چی اصل یې یَتَّقِیْ وو نو په اصل کی مخکی تر هاءِ یاء ده ۱۲ والله اعلم احقر فضل الحق حقانی غفرله الباری

## یو دیرشم سبق

# داجتماع ساکنین بیان نمبر ا

**سوال** داجتماع ساکنین مطلب او مفهوم څه دئ!

**جواب** داجتماع ساکنین مطلب دی ددوو ساکنو یوځای کیدل.

**سوال** دالتقاءِ ساکنین مختصره قاعدې څه دي!

**جواب** ددې دوه حالتونه دي

(۱) اول داچې دوه ساکنه په یوه کلمه کې وی او اول ساکن مده وی. دوهم ساکن خواه اصلی وی لکه اَلْاٰنَ ، دَآبَّةٌ - او که دوهم ساکن عارضې وي لکه يَعْلَمُوْنَ ۝ تُكَذِّبَانِ ۝ قَدِيْرٌ ۝. دا دواړه صورتونه جائز دي. دې ته اجتماع ساکنین علیٰ حده وائی.

(۲) دوهم داچې دوه ساکنه په دوو کلموکې وی یعنی اول ساکن دکلمې په اخرکې وی او دوهم ساکن دکلمې په شروع کې وی لکه وَاسْتَبَقَا الْبَابَ چې په اصل کې وَاسْتَبَقَا اَلْبَابَ ، وو دالْبَابَ په اول کې چې کوم همزه ده هغه وصلي ده په منځ کې دکلام حذف سوه نو دوه ساکنه په دوو کلموکې جمع سول. لفظ سو وَاسْتَبَقَا الْبَابَ. دا اجتماع ساکنین ناجائز ده. دې ته اجتماع ساکنین علیٰ غیر حده وائی.

**فائده:** ددوو ساکنو اجتماع په یوه کلمه کې دا صورت هم کیدای سي



Maktaba Tul Ishaat.com

چې دوه ساکنه په یوه کلمه کې وي او اول ساکن حرف مده نه وي لکن دا صورت همیشه په وقف کې کیږي. او په وقف کې دا جائزده نه په وصل کې لکه قُدْرْ ه عُشْرْ ه ذِکْرْ ه

## دودیرشم سبق

# اجتماع ساکنین نمبر۲

**سوال** هر کله چې التقاء ساکنین علی غیر حده غیر جائزده نو څه کول پکار دي!

**جواب** په دوو کلمو کې د اجتماع ساکنین ختمولو طریقې دا دي!

(۱) کله چیرې د دوو ساکنین اول حرف مده وو حذف کیږي لکه وَاسْتَبَقَا الْبَابَ او فِي الْاَرْضِ

(۲) کله چیرې یو د ساکنینو څخه میم د جمع وو ضمه ورکول کیږي لکه عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ.

(۳) کله چیرې اول ساکن واو لین د جمع وو هغه ته هم ضمه ورکول کیږي لکه وَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ

(۴) کله چیرې اول ساکن د مِنْ نون وو هغه ته زور ورکول کیږي.

(۵) کله چیرې اول ساکن د الٓمٓ میم وو هم زور ورکول کیږي.

لکه اَلٓـمّٓ اللّٰهُ۔

(٦) که په دی مذکوره صورتونو یو هم نه وو بیا اول ساکن ته زیر ورکول کیږی لکه قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ ، اَوِادْعُوا الرَّحْمٰنَ۔

**فائده:** که چیری د یو کلمی په اخر کی تنوین وی - او د بلی کلمی په اول کی همزهٔ وصلی وی نو په منځ کی د کلام همزهٔ وصلی حذف کیږی - وروسته دوه ساکنه سره جمع کیږی لهذا اول ساکن ته چی تنوین دی کسره ورکول کیږی لکه بِزِیْنَةِنِ الْکَوَاکِبِ۔ خَبِیْثَةِنِ اجْتُثَّتْ۔ اَحَدُنِ اللّٰهُ۔

## فائده

**سوال** حرکتونه څرنګه ادا کیږی!

**جواب** حرکات، زور، زیر، پیښ، نه وبل کیږی۔

**زور:** سیده په خلاصه خوله سره ادا کول پکار دی - چی د خولی د خلاص والی له کبله آواز خلاص د خولی څخه راوځی. لکه بَ تَ ثَ

**زیر:** د شونډانو د لاندی و طرفته د میلان پیدا کیدو څخه چی د یاءِ معلومی بوی ورکړل سی ادا کیږی لکه: قِ، لِ، مِ۔

**پیښ:** د شونډانو د یو ځای را ټولولو (ګول کیدو) څخه چی د واو معلوم بوی ورکړل سی ادا کیږی لکه، سُ، طُ، رُ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

سَوال د دی حرکتونو د غلط اداکولو څه صورت دئ!

جَواب په زوَر کی شوندان راټولول، یا شوندان دلاندې وطرفته مائل کول په دواړه صورتونو کی زوَر غلطیږی.

په زیر: کی د شونډانو د راټولولو یا خوله خلاصولو په دواړه صورتو کی د زیر اداکیدل صحیح نه دي.

په پېښ کی د خولې د خلاصولو یا خوله لاندی طرفته د مائل کولو څخه پېښ صحیح نه اداکیږی.

سَوال د سکون مطلب څه دئ!

جَواب د سکون اداکیدل دادی چې په حرف کی د حرکت یا ښورولو کیفیت رانه سې لهذې سببه د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، لام، یاد اَنْعَمْتَ نون ښورول غلط دی۔ البته د قلقلې په حروفو کی حرکت پیداکیږی۔

سَوال د تشدید مطلب څه دئ!

جَواب مشدد حرف دوه واره ویل کیږی۔ اول ساکن ثانی متحرک لهذې سببه په مشدد حرف کی د دوو حروفو اندازه څند کیږی۔ د دی سببه که څیری پر مشدد حرف باندی وقف وکړل سی نو د حرف په اداکیدو کی څند کول پکار دئ. ولې چې مشدد حرف اول ساکن دوهم متحرک وی۔ په وقف کی دا متحرک

هم ساکن سو نو دواړه ساکنان اداکول پکاردي لکه اَلْمُفَرُّ ۃ

یادونه: زیر او پیش همیشه باریک وي او زور که چیری پر باریک حرف باندی وو باریک ویل کیږی ورنه ډك ویل کیږي.

## فائده

**سوال** لَاتَأْمَنَّا څرنګه ویل کیږی!

**جواب** په لَاتَأْمَنَّا کی چی کوم نون دی هغه مشدد دی. د تشدید له کبله اول نون ساکن ویل کیږی بیا متحرك. نو هر کله چی اول ساکن وویل سی نو به دواړه شوندان سره راتول کړي. او دی راټولیدو سره به یو الف اندازه غنه وکړی. ولی چی نون مشدد دی. او په هر نون مشدد کی غنه ضروری ده. لکن هر کله چی نون متحرك وائی باید په شوندانو کی راټولیدل نه وی.

## فائده:

**سوال** هغه الفاظ چی په صاد سره لیکلی دي او پر هغو باندی یو کشنئ سین هم لیکلی دئ څرنګه ویل کیږی!

**جواب** داسی الفاظ په قرآن مجید کی څلور دي.

(۱) وَيَبْصُطُ (۲ سپاره ۱۶ رکوع. (۲) بَصْطَةً (۸ سپاره ۱۶ رکوع)
(۳) اَلْمُصَيْطِرُوْنَ (۲۷ سپاره ۴ رکوع) (۴) بِمُصَيْطِرٍ (سوره غاشیه) په دوو اولو لفظو کی صرف سین دی په دریم کی سین او صاد دواړه ویل جائز دی په څلورم صرف صاد ویل پکاردي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دروديرشم سبق

# وقف ځرنګه کول پکار دی

سوال دوقف کولو څه مطلب دئ!

جواب دیو کلمې پر اخر باندی ساه اخیستل اودریدل.

دکلمې داٰخر څخه مطلب دادئ چې دالفظ مخته دبل لفظ سره په لیکلو کې متصل نه وي لکه د مِنکُمُ پر مِنْ باندی وقف کول نه دی پکار. بلکه پر کُمْ باندی وقف کول پکار دئ.

سوال په وقف کولو دکلمې د آخري حرف نوم څه دئ!

جواب موقوف علیه.

سوال پر موقوف علیه باندی څرنګه دریدل پکار دي!

جواب (۱) که چیری موقوف علیه حرف داول څخه ساکن وو نو پر هغه باندی د ساه اخستلو په سبب وقف کیږی لکه فَلَا تَنْهَرْ

(۲) که چیری پر موقوف علیه حرف باندی عارضی حرکت وُو. لکه په قَالَتِ الْاَعْرَابُ کی پر تا باندی نو پردی دوقف کولو خاص یوه طریقه ده چې تاءِ ساکنه وویل سی او ساه واخستل سی.

(۳) دلفظ په اٰخر کی که چیری ګول تاء وی نو هغه په هاءِ ساکنه سره بدلیږی. لکه حَسَنَةٌ باندی وقف وکړو نو حَسَنَهْ وایو.

(۴) د لفظ په اخر کی که چیری د گردۍ تاء علاوه بل حرف وو او پر هغه باندی د زور دوه زوره تنوین وو نو په وقف کی هغه تنوین په الف سره بدلول کیږی لکه نِدَآءً په وقف کی نِدَآءا اویل کیږی۔

(۵) که چیری پر موقوف علیه حرف باندی یو زور وو نو هغه ساکن کیږی لکه وَقَبَ په وقف کی وَقَبْ ویل کیږی۔

(٦) که چیری پر حرف موقوف علیه باندی یو زیر یا دوه زیره وی په داسی صورت کی دوه وقف دوی طریقی دي لکه تَاللّٰهِ، نَعِيْمٍ

(۱) وقف بالاسکان (۲) وقف بالروم۔ د اول مطلب دی حرف بالکل ساکن ویل۔ او د دوهم مطلب دی حرف موقوف علیه باندی چی زیر دی هغه زیر په قرار، او آهسته آواز سره ویل۔

(۷) که چیری پر حرف موقوف علیه باندی یو پیښ یا دوه پیښه وه لکه نَسْتَعِيْنُ او عَظِيْمٌ په داسی صورت کی د وقف دری طریقی دی۔ (۱) وقف بالاسکان (۲) وقف بالروم (۳) وقف بالاشمام۔ د اشمام مطلب دا دۍ چی حرف خو ساکن وویل سی۔ لکن شونډان داسی، راټولول لکه څرنگه چی د پیښ ادا کولو په وخت کی، راټولیږی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

## ٣٤ څلوردیرشم سبق

# اِسکان، رَوم، اِشمام

**سوَال** په اسکان، روم، اشمام سره دَ وقف کولو څه طریقه ده!

**جوَاب** (۱) موقوف عَلیه (یعنی دَکلمې اٰخری حرف) بالکل ساکن کول او ساه اخستل دي نو وقف بالاسکان وائې - او هم دا طریقه زیاته مشهوره ده۔

(۲) دحرف موقوف علیه حرکت آهسته ویَل وقف بالروم ورته وائې لکه قَدُرِهٖ ؞

(۳) هغه حرف چې پرده باندې پېښ وي هغه ساکن وکړل سي۔ او دهغه سره شونډان ګول کول د پېښ و طرفته اشاره کول دي نو وقف بالاشمام ویَل کیږي۔

**فائده:** وقف بالاسکان په هرحرف او هر حرکت باندې کیږي۔ وقف بالروم صرف په زیر او په پېښ کې کیږي۔ وقف بالاشمام صرف په پېښ کې کیږي۔

**فائده:** د وقف ترټولو لوی اُصول دا دئ چې د رسم الخط تابع دی۔ یعنی لفظ چې څرنګه لیکلی وي په وقف کې هم هغه دول ویل له کېږي ګول تاء په هاء سره بدلیږي۔ دوه زبره په الف سره

بدلیږي ولې چې د دوه زَروه وروسته الف لیکلی وي لکه عَلِیمًا
خنجري پیښ یا زیر یا ولاړ زَور په وقف کې نه ویل کیږي
ولې چې حرکات او سکنات د رسم الخط څخه خارج دي. د دې
حرکاتو ولیکلو ته په وقف کې اِعتبار نشته.

فائده:

سوال روم او اشمام په کوم ځای کې جائز نه دي!

جواب (۱) په عارضي حرکت (۲) ګول تاء باندې وقف بالروم یا اشمام
جائز نه دی!

## پنځه دیرشم سبق

# د معنی سره د وقف تعلق

سوال وقف په کوم ځای کول پکار دي!

جواب د وقف معنی ده دریدل او ساه اخستل.
څرنګه چې د ساه اخستلو سره د وقف خاص تعلق دی. د دې
دپاره د وقف دوه قسمونه دي!

(۱) وقفِ اِختیاري (۲) وقفِ اِضطراري

چې په معنی باندې فکر ولري او کوم ځای چې کلام د خدای د پوره
سو په هغه ځای ودریږي. دې ته وقف اختیاري ویل کیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) لکن که چیرې داسې ځای وقف وکړي چې کلام خداوندي پر هغه ځای باندې پوره نه وي. لکن د ساه د تنګید وله سببه د اخر د کلمې ساکن کړي وقف ئې وکړي دې ته وقف اضطراري ویل کیږي له

شپږ دیرشم سبق

# وقف پر کوم ځای کول پکار دي

سوال: که چیرې څوک وقف کوي نو پر کوم ځای کول پکار دي!

جواب: بهتره داده چې پر کوم ځای چې خبره پوره سي هلته دریدل پکار دي. د پوره کیدو دري[۳] درجې دي.

(۱) پر کوم ځای چې مضمون ختم سي هلته دریدل وقف تام دئ. لکه پر وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ؕ

(۲) پر داسې ځای وقف کول چې جمله خو ختمه وي لکن مضمون نور هم وي هغه ته وقف کافي ویل کیږي لکه پر وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ؕ چې د متقینو نور بحث هم سته خو دا جمله پوره سوه.

---

له تشریح: مصنف د خلاصة التجوید دوه مختصره قسمونه ذکر کړه. خو د وقف نور قسمونه هم سته[۱] وقف انتظاري هر کله چې په یوه کلمه کې نور قرائت هم وي د هغو د پوره کیدو دپاره.[۲] وقف اختباري پر داسې کلمه وقف کول چې د هغې رسم او تلفظ سره موافق نه وي استاذ د شاګرد د امتحان اخستلو دپاره هلته ودرېږي[۳]
ازاحقر الانام فضل الحق حقاني غفرله

(۳) پر داسې ځای دریدل چې جمله یا مضمون پوره سوی نه وي۔ لکن د جملې په منځ کې پر داسې ځای دریدل چې د دې جملې خبره پر ذهن کې راسې دې ته وقف حسن ویل کیږي لکه وقف پر بِسْمِ اللّٰهِ ٭

سوال کرچیري داسې ځای وقف وکړل سي چې هیڅ خبره په ذهن کې نه راځي د دې وقف نوم څه دئ۔

جواب د دې وقف نوم وقف قبیح دی لکه وقف په سورة فاتحه کې پر کاف د اِیَّا کَ۔

## اووه دیرشم سبق

## رموز

سوال کرچا ته معنیٰ معلومه نه وي نو به څه کوي!

جواب بهتره دا ده چې د وقف پر علاماتو باندې وقف وکړي

علامات د وقف دا دي:۔ م، ط، ج، ز،

سوال د وقف وروسته بیرته د شاه لفظونه راګرځوي او که د وقف وروسته د مخ د کلماتو څخه ویل پکار دي!

جواب کرچیري وقف پر مذکوره علاماتو باندې وه بیا د شاه څخه د راګرځیدو ضرورت نسته مخته دې شروع وکړي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکه چیرې هلته څه علامت نه وي یا لا وي بیا دوروسته
کلما تو څخه راګرځول پکار دي۔

## اته دېرشم سبق

# څه ضروري مسئلې

**سوال** دسکتې څخه مطلب څه دی او داڅو ځایه ده!
**جواب** په قرآن مجید کې څلور ځایه سکته ده (۱) په سورة کهف
کې وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجًا سکته قَيِّمًا (۲) په سورة یٰسٓ ۴ رکوع کې
مِنْ مَّرْقَدِنَا سکته هٰذَا (۳) په سورة قیامه کې مَنْ سکته رَاقٍ۔
(۴) په سورة مطففین کې كَلَّا بَلْ سکته رَانَ۔

## دَ سکتې مَطلب

دسکتې مطلب دا دی چې هلته بیله ساه اخستلو څه ودرېږه۔
او داهم یاد وساته چې د سکتې حکم د وقف دی۔ صرف فرق
دا دی چې په وقف کې اخر د کلمې ساکن کېږي سره د ساه اخستلو
او په سکته کې ساه نه اخستل کېږي. لهذا په سورة کهف کې چې
کومه سکته ده دا رنګه کېږي چې څه دوه زوره په الف سره بدلېږي۔
همدا رنګه مَنْ، رَاقٍ. کې نون ساکن وېل کېږي د سکتې له سببه د رَاقٍ

دراء سره نه جنګيږي۔

اوهداغه صورت دې په بل زان کې۔ او په اولو دوو ځایو کې وقف کول هم صحیح دي ځکه دوقف رموز جوړ سوي دي۔

سوال په قرآن مجید کې هغه کوم کلمې دي چې د هغو په اخر کې الف لیکلی دی په وصل کې نه ویل کیږي۔ او په وقف کې ویل کیږي۔

جواب داسې کلمې په قرآن مجید کې اووه دي (۱) اَنَا هر ځای چې وي (۲) لٰكِنَّا په سورة کهف ۵ رکوع کې (۳) اَلظُّنُوْنَا په سورة احزاب ۲ رکوع کې (۴) اَلرَّسُوْلَا۔ او (۵) اَلسَّبِيْلَا په سورة احزاب ۸ رکوع کې۔ (۶) سَلَاسِلَا او اول قَوَارِيْرَا په سورة دهر ا رکوع کې۔

یادونه: اَنَامِلُ، اناسِیَّ، اَنَابَ، اَنَابُوا، لِلْاَنَامِ، دلته الف همیشه ویل کیږي۔

سوال آیا په قرآن مجید کې داسې لفظ هم سته چې په وقف کې هغه دوه قسمه ویل کیږي۔

جواب وو صرف دوه لفظونه دي یو فَمَا اٰتٰىنِۦَ په اثبات دیاء (په سورة نمل ۳ رکوع کې۔ دا لفظ په وقف کې فَمَا اٰتٰىنِ په حذف دیاء هم صحیح دی او فَمَا اٰتَانِيْ په اثبات دیاء هم صحیح دي (۲) دوهم۔ سَلَاسِلَا۔ په سورة دهر کې۔ چې دا لفظ په وقف کې

Maktaba Tul Ishaat.com

سَلاسِلَ په حذف د الف او سَلاسِلا په اثبات د الف دواړه
دوله ویل جائز دي.

**سوال** هغه کلمې را او ښیاست چې د هغوی په اخر کې الف لیکلې دی لکن په هیڅ حال نه په وصل او نه په وقف کې ویل کیږی.

**جواب** داسې کلماتې په قرآن کې ۹ نه دي. یَعْفُوَا په سورة بقره ۳۱ رکوع کې. اَنْ تَبُوْءَا په سورة مائده ۵ رکوع کې. لِتَتْلُوَا په سورة رعد ۴ رکوع. لَنْ نَّدْعُوَا سورة کهف ۲ رکوع. لِيَرْبُوَا سورة روم ۴ رکوع. لِيَبْلُوَا په سورة محمد صلی الله علیه وسلم رکوع (۱) نَبْلُوَا سوره محمد صلی الله علیه وسلم (۴) رکوع. ثَمُوْدَا په سورة هود، فرقان، عنکبوت او نجم کې. او دوهم قَوَارِيْرَا په سورة دهر کې.

**سوال** هغه کلماتې را او ښیاست په کومو کې چې الف په منځ کې د کلماتو لیکلې دی مګر زائد دی یعنی نه ویل کیږی.

**جواب** (۱) په سورة آل عمران کې لَااِلَی اللهِ، په سورة توبه کې (۲) وَلَااَوْضَعُوْا (۳) په سورة نمل کې لَااَذْبَحَنَّهٗ. په والصفت کې لَااِلَی الْجَحِيْمِ همدارنګه په سورة آل عمران کې اَفَائِنْ. او څوځایه مَلَائِهٖ. او په سورة یونس کې مَلَائِهِمْ او په سورة کهف کې لِشَائِیْءٍ همدارنګه مِنْ نَّبَائِ. او په سورة فجر وغیره کې وَجِایْءَ او مِائَةً وَمِائَتَيْنِ. هر ځای چې وی.

سوال خه داسې لفظ سته چې په روایت حفصؒ کې دوه دوله وَیل صحیح دي یعني په وقف او وصل کې۔

جواب په سورة روم ٦ رکوع کې ضُعْفٍ دوه ځایه او ضُعْفًا دلته په دې درې الفاظو کې د ضاد ضمه او فتحه دواړه جائز دي۔

## نه دیرشم سبق

# مُختلف معلوماتونه

سوال د مقطوع او موصول او تاء طویله او مدوره تشریح وکړئ!

جواب که چیرې قرآني کلمې جلا جلا لیکلی وي هغوته مقطوع وائي او دهر یوه په آخر باندې وقف صحیح دئ مثلاً فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ د سورة نساء ١١ رکوع. او "مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ" د سورة کهف ٦ رکوع. مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ. په سورة فرقان ١ رکوع. فَمَالِ الَّذِیْنَ. په سورة معارج کې څلور ځایه (ل) چې کوم حرف جار دئ۔ مجرور څخه جلا دئ. د رسم الخط د اتباع په موافقت پر لام باندې وقف جائز دی۔

او دیو ځای لیکل شوو کلماتو ته کوموته چې موصول ویل کیږي صرف پر دوهمه کلمه باندې وقف جائز دئ مثلاً په عَمَّ کې پر


Maktaba Tul Ishaat.com

هُمُو باندې چې د کلمې آخِر دې جائز دی او پر دَ عَوُ باندې وَقف نه دی جائز ـ

د اسماوو په اٰخِر کې تاء تانیث په قرآن مجید کې اکثره خو مدَوَّره (گول) ة - په شکل ده لیکلې وی. لکن کله کله اوږده هم لیکلې وی - په دواړو صورتو کې وقف د رسم الخط تابع وی.

یعنې گردَې تا په هـاء سره بَدلیږی - او اوږده تاء تاء ویَل کیږی لکه اِنَّ رَحۡمَتَ اللّٰهِ -

## دَ تلاوت عیبُونه

**سَوال** دِتلاوت عیبونه چې ده عَهْ مخرځان ساتل پکار دې هغه کوم کوم دې.

**جَواب** د تلاوت عَیبُونه دا دی ـ

**تَطرِیب:** یعنی مد اصلی زیات کشول ترځیل مقدار ـ

**ترعید:** بیله نرۍ او لطافته په لویدلی آواز سره ویَل.

**تَطنِین:** په پزه کې ویـل ـ

**ترقیص:** حرف ساکن ویَل بیا حرکت ویَل مثلًا اَنْ هَدٰینا

**عنعَنَه** په همزه کې د عین آواز او یا په عین کې د همزه آواز پیدا کول

**لَکـنَه** د اظهار پر ځای ادغام کول مثلًا فَاصۡفَحۡ عَنۡهُمۡ ـ

**وَقبَه** د اول لفظ مکمل کیدو مخ کې بل لفظ شروع کول ـ

همهمه مخفف حروف مشدد او مشدد حروف مخفف کول.

## څلویښتم سبق

# د تلاوت ادبونه

د تعلم او تعلیم د قرآن مجید د تلاوت او د ختم د دعاء وروسته داسې ډیر آداب ستته. مګر بعضې ضروري شیان دلته لیکل کیږي:

د مخرجونو او صفتونو تصحیح، په خوش آواز ئې سره تلاوت کول دمعنیو فهم، عمل، اخلاص، په اودا سره ویل. مسواک وهل عطر استعمالول، د فراغت په وخت کې تلاوت کول، پټ پاک اوصاف ځای کې، په بازار او د بیعقلانو په مجلسو کې نه ویل. د خندلو څخه او همدارنګه د قرائت په منځ کې د اجنبي خبرو څخه پرهیز کول.

ښه ځای اغوستل، د قبلې شریفې طرف ته مخ کول. په سکون او وقار سره سر ټیټ کښیناستل. د قرائت څخه مخکې اَعُوْذُ بِاللهِ. او بِسْمِ اللهِ. ویل. بَیْنَ السِّرِّ وَالْجَهْرِ تلاوت کول، په اوامرو او نواهي کې فکر کول. او په زړه سره هغه قبلول. په خپلو ګناهونو

باندی استغفار ویل. هرکله چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مبارك نوم ذکرسی پرهغه درود ویل. د رحمت پر آیا تونو باندی خوشحاله کیدل اود عا غوښتل، اود عذاب پر آیا تونو باندی بیریدل اود عذاب څخه پناه غوښتل. د دعا پر ایت باندی عاجزی کول. د وَالتِّیْنِ په اخرکی بَلٰی وَاَنَا عَلٰی ذَالِكَ مِنَ الشَّاهِدِیْنَ د سورة قیامه په اخرکی بَلٰی وَیل.

د سورت مرسلات په اخرکی اٰمَنَّا بِاللهِ وَیل، د فَبِاَیِّ اٰلَاۤءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبَانِ د پر اخر باندی وَلَا بِشَیْءٍ مِّنْ نِّعَمِكَ رَبَّنَا نُکَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ وَیل،

د سورة ملک په اخرکی اَللهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ وَیل.

د وَالضُّحٰی څخه د قرآن مجید تر اخره پوری د هرسورة پر ختم باندی تکبیر وَیل.

هرکله چې د کفار و مقوله راسی په کښته آواز سره وَیل.

د سجدې پر آیا تو باندی سجده کول. او ریدونکی د تلاوت په وخت کی د خبرو څخه منع کول، هرکله چې تلاوت ختم کړی په آخرکی صَدَقَ اللهُ الْعَظِیْمُ، وَیل.

## ختم سو خلاصة التجوید پښتو

د الله تعالی په فضل او احسان سره ....

# اعلان

محترمو مسلمانو!

مکتبة القراءات (رجسټرډ) کوټه اراده لري چې د علوم دینیه کتابونه په اعلیٰ کتابت، نوی ډیزائن اعلیٰ کاغذ او په ښائسته ټائیټل سره د وطن پر دین مینو مسلمانانو ته چاپ او د مطالعې دپاره زمینه برابره کړي.

یو د هغو څخه د علم تجوید نوي کتابونه دي. چې په نوي انداز او جدید کتابت او جدید حواشیو سره هیواد والو ته وړاندې کیږي.

د دې سره سره چې دا کار به په احسن طریقه سره په نامه د

مکتبة القراءات کوټه سرته رسوي!

همدارنګه مونږ اراده لرو چې د علم اصواتو یعنې هغه د قرآن کریم د تلاوت، اسلامی نعتونو، او د جیدو او تکړه علماو تقریرونو ته یو لوړاره په نامه د **حقاني تقارير سنټر** قائمه کړو تر څو به

مسلمانانو ته د کتاب او آواز یو ځای پیدا کیدل آسان سي

# الحمد لله

په خپله مورنۍ پښتو ژبه سلیسه او آسانه
ادبي کندهارۍ
پښتو

# تعلیم الاسلام

کتبه حقاني غفرله

چې د مولانا مفتي کفایت الله صاحب تصنیف دئ

پښتو ترجمه

فضل الحق حقاني المقرئ

نوې ترجمه، نوې کتابت، نوې ډیزائن، ښائسته ټائیټل

ناشر
مکتبة القراءت
کوئټه بلوچستان

د علم تجوید او قراءت د مشهورو او معتبرو کتابونو لویه اداره

# د مکتبة القراءت نوې مطبوعات

| | |
|---|---|
| جمال القرآن | پښتو، و فارسي مع تشریحات جدیده |
| فوائد مکیه | پښتو، و فارسي مع تشریحات جدیده |
| مقدمة الجزریة | پښتو، و فارسي مع تشریحات جدیده |
| القول السدید | پښتو مع الحواشي جدیده |
| هدایة المستفید | پښتو مع الحواشي و تشریحات جدیده |
| مفتاح التجوید | پښتو، و فارسي مع تشریحات جدیده |
| خلاصة التجوید | پښتو مع تشریحات جدیده |
| تسهیل التجوید | پښتو مع تشریحات جدیده |
| تیسیر التجوید | پښتو (زیر طبع) مع تشریحات جدیده |
| تجوید محمدي | پښتو مع تشریحات جدیده |
| معارف التجوید | پښتو مع رسم قرآن مجید |
| مقدمة التجوید | پښتو (زیر طبع) مع تشریحات جدیده |
| أماني شاطبية | پښتو دوه جلده مکمله شرح (زیر طبع) |
| تنشیط الطبع في إجراء السبع | پښتو سره د (غیث النفع) جدیده |

Maktaba Tul Ishaat.com




## مکتبة القراءة والتجوید

کاسي روڈ شالدره کوئٹه